مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

سلطان جان کلیوال

۲۰۱۹/۰۵/۰۹

# پـــا م!

مه ولئ غوټی په کاڼو، پرېږدئ چي ګلونه شي
ځانګي د ګلانـو لکه زلفې شـي ټالـونه شـي

غوارم چي په خلاصو سترګو سيل د ښکلا وکړمه
مه مي تړئ سترګي، چی پوره مي ارمانونه شي

پاڼــي د کتــاب لکه د ونــو پاڼـي مه سـيزئ
پريـدئ چي دا پـاڼي شـي را ټـولي کتابونه شي

لاري بندي نکړئ زړونه يو بل ته اړتيا لري
مينه به غالبـه شي نژدې که سره زړونـه شي

پورته به شاهين ځنګه د لوړو څوکو سرته شي
مات که يی د ظلم په ګزار باندې وزرونـه شي

څوک چي د مور سترګو کي د ميني ځپې نه ويني
ځنګه به ځرګند ورته د مينـدو فـريادونه شي؟؟

پـام چي کليواله دلته هر ځيک کي ژوند پروت دی
نه چي د چا ژوند کي ستا په لاس جوړ کړاوونه شي.

می/۵/۲۰۱۹
ايجکس ـ تورنتو ـ کاناډا



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ